## د ملا برادر آخند کلي ته سفر!

**امین وردګ**

د تېرې جمعې مبارکې په ورځ مو سهار وخته له کابل څخه د ارزګان په لور حرکت وکړ، د سهار لمونځ مو په ناني کې اداء کړ او ناشته مو په کلات تاریخي ښارګوټي کې وکړه، همغه کلات درته یادوم چې د سیوري ولسوالي یې په بې ساري سختیو کې څه باندې یوه لسیزه د لوی ملاصاحب مرحوم او مبارک کوربه وه نو مننه ترې کوو...له هغهٔ ځایه سیده لاړو د مینې او آرامش ښار کندهار ته چې تل یې زما زړهٔ ته خوشالیانې ورکړې او هغه داسې: زهٔ چې د کندهار جغرافیې ته هر وخت او له هرې خوا داخل شوی یم خوشالي حس کړې او په لامل یې هم نهٔ پوهېږم؟ څوک راته وایي چې د خرقې مطهرې برکت دی، څوک وایي هوا یې همداسې ده... هر څهٔ چې دي، وي بهٔ! خو ای کاش چې زما کور او زما دنده دواړه په کندهار کې وای! کله چې عینو مېنې ته و رسېدو نو هلته زموږ یو دروند او خوږ ملګری راته ولاړ ؤ؛ سیده یې د خپل محترم پلار د ملنګۍ جونګړې ته بوتلو چې په ظاهري توګه له هرې خوا غریبانه وه اما په معنوي برخه کې یې رعب او وقار له ورایه ښکارېدلو؛ زاړهٔ فرشونه او زړې توشکې اما هلته ناست کس له یو جهان اسراسرو سره زموږ کوربه توب کولو؛ مینه ناکه مسکا او په خبرو کې یې د وزن ترڅنګ آرامش او سکون هغه ځانګړنې وې چې سړی نهٔ شي ترې تېرېدلی او دا لوړ شخصیت والا عالم هماغه څوک ؤ چې له امیرالمؤمنین (حفظه الله) سره بهٔ یې وخت ناوخت لیدل او وایي چې په استثنایي حالاتو کې بهٔ یې ځینې مشورې هم ورکولې؛ یانې عالي مقام ته نږدې کس او مشاور یې ؤ! دا چې د جمعې مبارکه ورځ وه نو همدلته مو په همدغهٔ حاجي آغا پسې لمونځ هم اداء کړ او وروسته له لمانځهٔ څخه بېرته لاړو همغې غریبانه خو له سکون ډکې جونګړې ته، هلته مو ډوډۍ وخوړه چې خدایي شي نو ډېر زحمت یې کښلی ؤ او ډوډۍ هم مزه ناکه وه، رب یې دې ورته قبول کړي! له ډوډۍ وروسته مو ارزګان ته حرکت وکړ خو کله چې ارغنداب ته واوښتو نو پر سرک ځای نهٔ کېدلو؛ رنګارنګ موټران، موټرسیکلونه، ریکشې، بایسکلونه خو داسې حال ؤ فقط تهٔ وا د کوم لوی خان ورا ده او ناوې راوړي... یوه نکته دلته ډېره مهمه وه او هغه دا چې نور نو له ټانګ، توپ، طیارې او ماینونو څخه ډار بلکل نهٔ ؤ ځکه چې فضا ټوله سکون او مینې اخلال کړې وه؛ ښکلي ځوانان،خوشاله سپین ږیري او ګل غوندې نازنین ماشومان داسې ښکارېدل چې په لیدو یې زړونه خوشاله کېدل.

کله چې له دالې څخه واوښتو نو لاره خلوت شوه او سرک هم قیر خو داسې سرک چې نهٔ یې لوړې او ژورې په پام کې نیول شوې وې او نهٔ هم ګولایې یا ګرځندې (په انجنیري اصطلاح؛ یانې ګټېنګ او فلېنګ بلکل په نظر کې نهٔ وو نیول شوي!) کهٔ بهٔ چېرې نیم متر لوړوالی ؤ نو هلته بهٔ همدا نیم متر سرک هم لوړ شوی ؤ او کهٔ بهٔ نیم متر کښته والی ؤ نو کښته شوی بهٔ ؤ یعنې فقط د ځمکې مخ ته په کتو یې قیر پرې اچولي وو چې نهٔ مو چېرې کوم پل و لید، نهٔ پولچک او نهٔ هم بلول... تر دې چې دا نعمت هم رب واخیست او کاملاً خامې ته ووتو خو خامه هم داسې خامه وه چې له ګردو یې خلاص کړو؛ دا خو ښهٔ وه چې شهامت صاحب فضا خوشاله او صمیمانه ساتلې وه کنه دا لاره بیخي غمېدله.

کله چې یوڅهٔ مخکې لاړو نو ومو لیدل چې د سرک جوړولو لویه ماشینري لګیا وه او کارونه یې کول چې دې نکتې موږ سخت خوشاله کړو او الحمدلله مو وویل تر دې چې ترینکوټ ښار ته ننوتو خو ښار تیارهٔ ؤ ځکه چې تر اوسه لا د برېښنا له نعمت څخه محروم ساتل شوی ؤ؛ یانې نهٔ یې لاره وه او نهٔ یې برق چې دا دواړه په اوس عصر کې د ژوند هغه لومړني نعمات دي اما دوی نهٔ لرل، حال دا چې دا همغه ارزګان ؤ په کوم کې چې په لومړي ځل اشغالګرې ناټو خپل بې بندباره اربکیان زموږ له داخلي اربکیانو سره یوځای چې په رئس

کې يې حامد کرزي- د هوا او ځمکې له لارې ور لېږلي وو خو بيا يې هم په شلو کلونو کې نه دوی ته سمه لاره ور جوړه کړې وه او نه يې هم برېښنا ورکړې وه او دا چې دا ښار د ملابرادر آخند ښار يادېږي نو خلکو گمان داسې کولو چې دغه سړي خو د افغانستان جوړولو ته خلک وايي چې(( قسم کړی دی، هم يې د ډېرېو خلکو غم کړی دی!)) نو لومړی به خپل ښار جوړوي بيا نور ځايونه اما داسې نه وه! نو له همدې ځايه معلومېږي چې اسلامي امارت واقع عادل نظام دی او ځان د ټول افغانستان مالک بولي چې دی هم! له بدخشان څخه يې پنشېر ته لوی لوی گرنگونه پرې کړل اما ارزگان لا هم پر خپل حال دی! يقيناً چې پر ارزگانيانو ورونو مې زړه و سوزېدلو، زه خو وايم چې زموږ د تنگي دا کوږ او وږ سرک دې هم له دوی څخه صدقه شي، دوی واقعاً مستحق دي.

کله چې ځای (تخنيکي او مسلکي آمريت) ته و رسېدو نو ملگرو مو بيخي ډېر اکرام او احترام وکړ، يقيناً چې د ارزگان خلک مېلمه پال او مينه ناک دي، الله پاک يې دې وساتي.

سهار مو چې په خپل خواږه مشر پسې لمونځ اداء کړ او بيا مو په دويم چت کې له برنډې څخه لاندې ښار ته کتل چې خړ گرد پرې پروت ؤ، په منځ کې يې يوه گمبده او دوې ډېر لوړې منارې ښکارېدلې، پوښتنه مې وکړه چې دا جومات کله او چا جوړ کړی؟ دوی وويل چې دا ملابرادر آخند جوړوي، اوس هم کار پرې روان دی خو يقيني چې ډېرې لوړې منارې يې لرلې او دا به د ارزگان د تاريخ پر سينه د تل لپاره وليکل شي چې دا همغه ملابرادرآخند د جوړ کړی د کوم چا چې زموږ نامرد گاونډي د مېلمه توب احترام هم و نه کړ او په کلونو کلونو يې د تورو تمبو شاته اچولی ؤ اما نن دا د افغانستان د آبادۍ امام د همغه کرغېړن (شامد) او بې باکه (تور د تيمر) په قبضه کړې ښار (ترېنکوټ) کې چې دوی به په وحشت او بربريت سره گلان غونډې ځوانان پکې شهيدانول يو داسې جامع جومات جوړوي چې د ارزگان تاريخ به پرې ښائسته شي.

کله مو چې د خپلې ولايتي څانگې له شاپونو او ځينو عملي تعليمي مراکزو څخه ليدنه وکړه او د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې مشر (مولوي غلام حيدر شهامت) د څانگې د جغرافيايي موقعيت په اړه زموږ ولايتي مسؤلينو ته مشورې ورکړې، لازمې سپارښتنې يې ورته وکړې او تر څنگ يې دا هم ورته وويل چې د دغه مکان موقعيت په ستراتيژکه توگه ډېر با اهميته او فوق العاده دی ځکه چې نکته حاکمه او د ښار په تناسب ډېره لوړه ده نو که د ښاروالۍ او ښارجوړونې له رياستونو سره په همغږۍ دا ځای يو تفريحي پارک او نمايشگاه غونډې شي دا به د ارزگان ولايت لپاره ډېر مؤثر تمام شي او په دې اړه يې وعدې هم ورکړې چې مرکزي اداره به سل په سل کې ان شاءالله چې تاسو حمايه کوي ترڅو دلته دغو محکومو اقشارو ته ډول ډول خدمات وړاندې کړئ او دا ځای په معياري توگه په نويو نياليگو او چمنونو مزين کړئ.

کله چې يادې ليدنې خلاصې شوې بيا لاړو د مجاهدينو د فراغت محفل ته چې ۴۶۶ کسان له ثانوي او فوق ثانوي زده کړو څخه فارېغېل؛ محفل ډېر پرجوش ؤ ځکه چې د فارغينو خپلوان او دوستان بيخي زيات راغلي وو؛ علماء کرامو ډېرې ښې خبرې وکړې چې يو له هغوی څخه مفتي عبدالله رباني ؤ او ده وويل (دلته له کلونو را هيسې پردی فکر حاکم ؤ او غوښتل يې چې په حرفوي توگه د مسلمانانو واحد صف سره دوې ټوټې کړي چې يوه يې د طالب په نوم کړه او بله د محصل بيا يې يوې ته ممبر و سپارلو او بلې ته دفتر له هغې وروسته يې د خلکو ذهنيت داسې جوړ کړ چې گواکي دا ممبر والا (طالبان) دفترداري نه شي کولی او هاغه دفترولا(محصلين) د مببر مسئوليت نه شي پر غاړه اخيستی او دا دواړه علمي قشرين يې يو د هغه بل د ځای لپاره وړ نه بللو خو الحمدلله چې د اسلامي امارت په راتگ سره دا

نکته له منځه لاړه چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري پهٔ متو یې دا دی ټولو ته و ښوده چې دلته د ممبر او د دفتر ځوانان ټول سره یو دي او یو بهٔ یي ان شاءالله.

د یوې لوا قومندان مولوي برهان الدین بیضاوي وویل چې محمد رسول الله (صلی الله علیه و آله و سلم) د احزاب پهٔ غزوه کې هم تخنیک و کارولو او هم مسلک؛ له سلمان فارس څخه یې مسلکي نظر وغوښت او پهٔ خپل مبارک لاس یې تخنیکي ګذار وکړ چې پهٔ دغه ډول یې هغه ډېره له منځه یووړه، کومه چې د خندق پهٔ مابین کې راختلې وه نو تخنیکي او مسلکي زده کړې د ژوند کولو لپاره بیخي زیاتې مهمې او اساسي دي.

زموږ د اداري مشر (مولوي غلام حیدر شهامت) وویل: کهٔ موږ تېر تاریخ ته وګورو نو دا بهٔ حس کړو چې تل پهٔ افغانستان کې مجاهدین بریالي شوي دي او هر ځل یې اشغالګر پهٔ منډو کړي خو کله چې د سیاست میدان ته داخل شوی نو مجاهدینو ماتې خوړلې ده! دا ولې؟ ښهٔ ورته متوجه شئ! د دغو ماتیو لامل فقط د مجاهدینو له دفتري کارونو سره نا بلدي وه! څکه چې دوی د جهاد پهٔ خاطر له علم او تجاربو څخه لیرې پاتې شوي وو خو موږ دا ستونزه حل کړه الحمدلله او هغه داسې چې دا ډول مجاهدینو ته مو لومړی د زده کړو لپاره طرح جوړه کړه بیا مو د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د خاص ترحم او فرمان له مخې پلې کړه چې اوس یې دا دی ثمره ترلاسه کوو الحمدلله، یوازې دا کسان نهٔ دي! بلکې پهٔ ټول افغانستان کې مو سږ کال شاوخوا څلوېښت زره مجاهدین فارغ کړل چې دا ډېر لوی کار دی.

غرمه مو چې ډوډۍ وخوړه، لمنځونه مو وکړل نو بیا را روان شوو او شپه مو د مینې ښار کندهار ته را و رسوله، هلته مو هم نهایي قدر او عزت وشو ټول دې رب راته وساتي، اې خدایه بیا مو مه سره بېلوه، یقیناً چې افغانان یو له بل څخه ځاریږي خو ای کاش چې د پردیو لاسونه خو مات شوي وای.

سبا لاړو د کندهار جهادي مدرسې ته او له هغهٔ ځایه د جهادي مدرسې عمومي ریاست ته لاړو؛ رئیس یې واقعاً درونډ شخص ؤ ښاغلي شهامت ورته وویل چې اوس خو نظام له موږ سره دی الحمدلله! نو کهٔ تاسو له درانهٔ امیرالمؤمنین (حفظه الله) سره دا موضع هم شریکه کړئ چې پهٔ ټولو جهادي مدارسو کې زموږ د اداري نصاب هم تدریس شي، دا بهٔ د راتلونکو فارغو دیني عالمانو لپاره لویه لاسته راوړنه وي تر څو د نظام او ملت خدمت ته د دیني علومو ترڅنګ پهٔ عصري علومو هم سمبال ځانونه وړاندې کړي؟ د شیخ صاحب دا نظر ډېر خوښ شو او وعده یې وکړه چې پهٔ دې اړه بهٔ جدي اقدام کوي او امیرالمؤمنین (حفظه الله) ته بهٔ دا موضع خامخا وړاندې کوي ان شاءالله.

پهٔ کندهار کې مو چې کارونه خلاص شول نو بیا مو حرت راوکړ او تر کابله مو داسې خوارهٔ مجلسونه کړي چې تل بهٔ مې یاد وي؛ پهٔ ټول سفر کې علمي بحثونه روان وو؛ کله د قرآن کریم تفسیري اعجاز، کله د نبوي ملغلرو خوارهٔ او ظریف نکات، کله د صحابه کرامو شیرن حالات، کله کله تخنیکي او مسلکي مباحث او کله هم خوشطبعي او خوشاله فضا برابرول، یقیناً چې نهٔ غمېدونکی او نهٔ هېرېدونکی سفر ؤ، سړی باید له عالمانو او پوهانو سره سفر وکړي، یقیناً چې ډېر خوند کوي! د شپې آتهٔ بجې وې چې کابل ته را و رسېدلو.

پهٔ سفر کې تر ټولو زیات خوند پهٔ بې ساري امنیت کې ؤ! واقعاً چې زموږ امنیتي ارګانونه د ډېرې ستاینې وړ دي؛ باور وکړئ چې پهٔ ټول سفر کې مو ذره ناامني او نا آرامي نهٔ ده حس کړې حال دا چې نږدې نیم سفر مو پهٔ شپه کې کړی! نو زهٔ حیران د سوشل مډیا پروپاګندیانو ته یم؟! نهٔ پوهېږم چې دوی له څهٔ جنس څخه پیدا شوي چې پر حق اغماض کوي، کتمان کوي او یومخ دروغ وایي.